# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



ليکوال: شريف بهاند


۱۱/۰۱/۱۴

## طبيعي زيرمې

## د سوکالۍ وسيله او که د جګړې لامَل؟

## ۳

### د سيال د له پېښو غورځولو ستراتيژي:

د نړيوال سياست په ډګر کې ملي دولتونه اصلي لوبغاړي وو او دي او همداسې به هم پاتې شي. خو تاريخي تجربو دا هم په ډاګه کړې، چې د دولتونو ګټې او تلوالې او همدارنګه د دوي ترمنځ کړکيچ، تر پخوا څخه اوس په زياتيدونکي توګه د جيو ستراتيژيک او جيواکونوميک فکتورونو تر اغيز لاندې دي. دا په دې مانا، چې سياست د تولو پيښو ټاکونکی نه، بلکې د هغه تر څنګه اقتصادي اړيکې هم ټاکونکی رول لوبوي. تاريخي تجربو دا هم په ډاګه کړې، چې بشريت د خپلې تولنيزې او اقتصادي ودې په ترڅ کې د وخت د تخنيکي شونتياوو په پام کې نيولو سره له بيلابيلو اومه توکو څخه ګټه ترلاسه کړې او دغو اومه توکو ستراتيژيک ارزښت خپل کړی دی. د بيلګې په توګه د صنعتي انقلاب له پيل بيا د نولسمې پيړۍ تر نيمايي پورې د انرژۍ په ډګر کې د ډبرو سکارو ستراتيژيک ارزښت درلود. خو د نولسمې پيړۍ له نيمايي وروسته، د صنعتي پراختياوو سره سم دغه رول تيلو ترلاسه کړ. دغه طبيعي توکی له ميلاد څخه ۳۰۰۰ کاله مخکې هم خلکو پيژاند [(۱)]. د درملنې ترڅنګ هغه ان په جګړو کې ټاکونکي رول درلود. هومر Homer په خپلې حماسې، ايلياد Ilias کې په دې باب داسې ليکلې:"د ترويا خلکو سترو او چټکو بيړيو ته اورونه ورواچول او له هغو څخه داسې لمبې او لوخړې پورته شوې، چې د هغو وژل ګران کار و"[(۲)]. د فارس د هغه وخت واکمن، کوروش Cyrus د بابل په نيولو کې هم له همدې مادې څخه ګټه ترلاسه کړې وه. کله چې نوموړي خپل پوځ د بابل د نيولو لپاره چمتو کاوه، ده ته د ګريوان په ګريوان جګړو خبر ورکړ شو، خو کوروش يو ځانګړې جګړه ييز تکتيک رامنځته او وغوښتل د اور په مرسته پر خپلو غليمانو برۍ ترلاسه کړي."موږ په پوره اندازه تور نفت او سنې (الياف) لرو، چې د هغو په مرسته به هر څيزې

اور ته پراختیا ورکړو، هغو کسانو چي په لوړو ځایونو کي مورچل نیولي، یا به هغوي په چټګه توګه خپل مورچلونه خوښي کړي، یا به دوي د اور په لمبو کي سوځي" [۳].

له پورتنیو ارزونو څخه دا روښانه کېږي، چي تیل په نړۍ کي یو اوږد او ګڼ خیلوي (متنوع) تاریخ لري. د تیلو دغه ستراتیژیک ارزښت په تیره د لومړۍ او **دوهمي** نړیوالي جګړې **په بهیر کي په څرګند ډول تثبیت شو**. د سړې جګړې په بهیر کي هم د هغو پر زیرمو کنترول او له هغو څخه ساتنه د پوځ ټاکونکی دنده وګرځیده. کله چي شوروي پوځ پر افغانستان یرغل وکړ، نو لویدیزې نړۍ په ځانګړې توګه امریکایانو هغه د فارس په خلیج او منځني ختیځ کي خپلو انرژیکي ګټو ته یو ستر ګواښ وباله. ځکه یې روسانو ته په روښانه الفاظو ورياده کړه:

"د فارس د خلیج د سیمي د کنترول لپاره د هر بهرنی ځواک هر ډول هڅه و هاند د امریکا د متحدو ایالتونو پر حیاتي ګټو یرغل ګڼل کېږي او دا ډول یرغل به د هر ډول اړینو وسایلو، ان د پوځي ځواک په مرسته په شا وتمبول شي" [۴].

لکه څنګه چي په پورتنیو کرښو کي یادونه وشوه، له سړې جګړې مخکي او وروسته د انرژۍ سمبالښت او د نورو طبیعي اومه توکو د زیرمو کنترول د لویدیزې نړۍ په ځانګړې توګه د متحدو ایالتونو د بهرني سیاست بنسټیز ټکی ګڼل کېده. اوسمهال د هغي سره په سیالۍ کي نوي رامنځته شوي صنعتي هیوادونه، د نورو تر څنګ چین او هند هم غواړي، چي د خپل مخ په ودې اقتصاد د تندې د ماتولو لپاره، د فسیلي انرژۍ او نورو اومه توکو زیرمو ته لار ومومي. د بیلګي په توګه چین د تیلو او ګازو د ترلاسه کولو او د هغو پر زیرمو د کنترول لپاره په بهر کي د خپلي پانګي اچوني ونډه له ۵ ،۳ میلیاردو ډالرو، کال ۱۹۹۵، څخه ۰ ،۴۸ میلیاردو ډالرو ته، کال ۲۰۰۹ کي، لوړه کړه [۵]. د دغي پانګي بنسټیزه موخه د طبیعي اومه توکو او د تیلو زیرمو ته د لارې پرانیستل دي، چي چین وکولي شول د مالي کړکیچ په کلونو ۲۰۰۸ ــ ۲۰۰۹ کي زیاتو ادا ډول زیرمو ته لار ومومي. ځکه د مالي کړکیچ په ترڅ کي نه یوازې د اومه توکو او تیلو بیه ډیره راټیټه، بلکي د دې ځانګو ځیني نړیوالي او همدارنګه دولتي کنسرني هم له مالي ستونزو سره مخامخ شوې. د چین د ملی انرژۍ د اداري د مشر په وینا: "بیې راټیټي او شریکېدل ساده شوي دي" [۶]. له همدې چانس څخه په ګټې اخیستني سره "د چین د تیلو او کانونو د رااېستلو کنسرني په کال ۲۰۰۹ کي په تولیزه توګه ۳۲ میلیارد ډالر د کنسرنو د رانیولو او په نورو هغو کي د شریکېدلو لپاره مصرف کړي دي، چي له دې شمېره څخه یوازې ۱۷ میلیارد ډالره په بهر کي د تیلو د زیرمو د خوندې کولو لپاره لګولي شوي دي"[۷]. چین د مالي کړکیچ په بهیر کي د نورو ترڅنګ امریکایي کمپنې، کونکوفیلیپ ConocoPhillips، د ناروې د تیلو او ګازو کمپني آوېلکو اوفشور Awilco Offshore واخیستلي. همدارنګه د چین د تیلو ملی کمپني د یوې مزایدې په ترڅ کي د عراق د روماېلا Rumaila نومي سیمي د تیلو د زیرمو د رااېستلو حقوق ترلاسه کړ. همدې موضوع ته په نغوتې سره، نیویارک تایمز لیکي: "متحده ایالتونه په قهر دي، [چي] موږ خپلي ویني قربانوو او چینایان امتیاز ترلاسه کوي"[۸].

د انرژۍ تر څنګ د ځینو اوسنیو صنعتي ځانګو له پرمختیاوو سره، نورو طبیعي توکو د انرژۍ هغو په څیر ستراتیژیک ارزښت ترلاسه کړی دی. دغه ستراتیژیک توکي، په طبیعت کي لرپیداکېدونکي فلزات لکه سکاندیوم Scandium، ایتریوم Yttrium او لانتان Lanthan او همدارنګه د لانتانید Lanthanide څلورلس ډوله، پرازیودیم Praseodym، نیودیم Neodym، پرویتویم Promethium، زاماریم Samarium، اروپیوم

Europium، ګادولېنیوم Gadolinium، تربیوم Terbium، دیسپروسیوم Dysprosium، هولمیوم Holmium، ایربیوم Erbium، تولیوم Thulium او لوتیتیوم Lutetium، دي[۹].

له دغو لرېپیداکېدونکو فلزاتو څخه په تېره د الکتروتخنیک او د وسلو په صنایعو کې زیاته ګټه اخیستل کېږي. لاندنی جدول د دغو طبیعي اومه توکو زیرمه لرونکي، تولیدونکي او لګښت کونکي هیوادونه په ښه توګه روښانوي.

د نړۍ په کچه د لرېپیداکېدونکو فلزاتو د زیرمو ویش او د هغو تولید (په ټن)

| د هغو زیرمې | | | د هغو راایستل شوې ونډه | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | **شمېرنې په زر ټن** | شمېرنې د سلمې له مخې | **۲۰۰۹ کال** | **شمېرنې په ټن** | شمېرنې د سلمې له مخې |
| متحده ایالتونه | ۱۳. ۰۰۰ | ۱۳، ۲ | برازیل | ۶۵۰ | ۰، ۵ |
| استرالیا | ۵. ۴۰۰ | ۵، ۵ | چین | ۱۲۰. ۰۰۰ | ۹۷، ۰ |
| برازیل | ۴۸ | ۰، ۰ | هند | ۲. ۷۰۰ | ۲، ۲ |
| چین | ۳۶. ۰۰۰ | ۳۶، ۵ | مالیزیا | ۳۸۰ | ۰، ۳ |
| هم ګټي هیوادونه | ۱۹. ۰۰۰ | ۱۹، ۳ | ټولیز | ۱۲۳. ۷۳۰ | ۱۰۰، ۰ |
| هند | ۳. ۱۰۰ | ۳، ۱ | د هم ګټو هیوادونو، متحدو ایالتونو، استرالیا او نورو هیوادونو د تولیداتو په باب شمېرې نه دي وړاندې شوي. | | |
| مالیزیا | ۳۰ | ۰، ۰ | | | |
| نور هیوادونه | ۲۲. ۰۰۰ | ۲۲، ۳ | | | |
| ټولیز | ۹۸. ۵۷۸ | ۱۰۰، ۰ | | | |

اخځ:

Fred Schmid: China, Krise als Chance? Aufstieg zur ökonomischen Weltmacht, isw - Report, Nr. 83/84, 2010, S.48

پورتنې شمېرنې د دې ښکارندوي دي، چې چین د لرېپیداکېدونکي فلزاتو تر ټولو زیاتې زیرمې یانې د نړۍ ۳۶، ۵ په سلو کې لري او په نړیواله کچه د هغو د صادراتو انحصار، ۹۷، ۰ ٪ ، هم د دوی په لاس کې دی. خو د چین سیال هیواد، متحده ایالتونه هم د دا ډول زیرمو خاوند دی، خو د نسبي مزیت د قاعدې له مخې له خپلو دغو زیرمو څخه یې ګټه اخیستل په ټپه بند کړي دي. ځکه هغه د چین د کانونو سره د سیالۍ وړتیا نه لري. د لرېپیداکېدونکو فلزاتو نور تولیدونکي هیوادونه برازیل، استرالیا، هند او مالیزیا دي. سربېره پر دغو هیوادونو، د دا ډول طبیعي

توکو زیرمي د گرونلندGrönland په ټاپو ۶ ،۲ میلیون ټن او کانادا کي هم کشف شوي دي. جاپان د خپلو الکترو تخنیک صنایعو د اړتیا وړ لړپیداکېدونکي فلزات له ویتنام څخه واردوي [۱۰].

د الکتروتخنیک د صنایعو د ځانګو په پراختیا او د مدرن تخنیک د تولیداتو په ودې سره، لړپیداکېدونکو اومه توکو ته په تیره لسیزه کي غوښتنه په بیساري توګه زیاته شوې ده. له دغو اومه طبیعي توکو څخه، په تیره نرۍ پرده لرونکي تلویزیونونوLCD، لپ تاب Laptops کمپیوترونو، د برېښنا د زیرمې او د هغې د لیږدولو په کیبلونو، موبایل تیلیفون او نورو خوځنده (سیار) مخابراتي او تفریحي وسایلو، الکترونکي (برېښنایي ـ بنزیني Hybrid) موترو، د برېښنا سپما کونکو ګروپونو، برېښنا تولیدونکو بادي ژرندو (بادي جنریټورونو)، د لمر د انرژۍ په تولیدونکو وسایلو، کاتالیزاتورونو Katalysatoren او تر ټولو دمخه د وسلو جوړولو، په ځانګړې توګه د رهبري شوو توغندیو په صنایعو کي، ګټه ترلاسه کېږي[۱۱]. له پورتني ارزوني دا پایله ترلاسه کېږي، چي لړپیداکېدونکي فلزات هم ستراتیژیک ارزښت لري. نو د چین د سیاستوالو په اند: " منځنی ختیځ تیل لري، چین د لړپیداکېدونکو فلزاتو خاوند دی" [۱۲]. لکه څنګه چي د اوپک سازمان د خپلو تیلو د راایستلو ونډه او د خرڅولو بیه کنترول او نه غواړي خپل تور زر په ټیټه بیه خرڅ کړي، چین هم غواړي د کنترول شوو صادراتو له لارې خپل لړپیداکېدونکي فلزات په لوړه بیه نړیوال بازار ته وړاندې کړي. د چین د لومړی وزیر، وین جیاو باو Wen Jiabao په اند: "د تیرې پیړۍ د اتمي لسیزې په پیل کي موږ، خپل لړپیداکېدونکي فلزات د مالکي په بیه خرڅول، خو په حقیقت کي هغه د سرو زرو ارزښت لري"[۱۳]. چینایي سیاستوال په خپله اعتراف کوي، چي دوي د تیرې پیړۍ په وروستی لسیزه کي د ۱۷ډولونو لړپیداکېدونکو فلزاتو ریښتني ارزښت او ستراتیژیک مفهوم درک کړل. اوس هم "موږ د لړپیداکېدونکي فلزاتو د صادراتو په وړاندې خنډ نه رامنځته کوو، خو د هغو بیه او د صادراتو ونډه باید عادلانه او په تیره د چین د اړوندو صنعتي ځانګو راتلونکي وده هم په اغیزمنه توګه خوندي وي" [۱۴]. د چین د سیاستوالو په اند، که د لړپیداکېدونکو فلزاتو صادرات لکه همدا اوس دوام ومومي، یاني د نړۍ د اړتیا ۹۷ ٪ کي د دوي له خوا سمبال شي، نو ښایي زیرمي یي له ۱۵ ـ ۲۰ کلونو پورې خلاصې او بیا باید دوي خپل د اړتیا وړ دا ډول اومه توکي له بهره راوارد کړي. همدا لامَل دی، چي چینایانو د هغو د صادراتو په وړاندې تنکسیاوې رامنځته کړي دي.

د تیلو او نورو طبیعي توکو پر زیرمو د کنترول، د هغو د کنسرنو اخیستلو او د لړپیداکېدونکو فلزاتو د صادراتو په وړاندې د تنکسیاوو له رامنځته کېدو څخه، د چین د ولسي جمهوریت موخه:

ـ د خپلو زیرمو او ستراتیژیکو ریزرفونو ډکول؛

ـ د خپلې با دوامي اقتصادي ودې لپاره د اومه توکو تضمین؛

ـ او ترټولو مهم په نړیواله کچه د خپل سیاسي ـ اقتصادي او په تیره ستراتیژیک اغیز پراختیا ده.

د چین د ستراتیژیک اغیز پراختیا، لویدیزه نړۍ، په ځانګړې توګه د متحدو ایالتونو دولت، د خپل نړیوال دریځ لپاره یو ستر ګواښ بولي. داسي برېښي، چي د دغې سیالۍ ډګر د اوراسیا سیمه او په هغې کي بیا منځني اسیا او د هغې ستراتیژیک وړ، افغانستان دی. د ناتو پوځي سازمان او متحده ایالتونه په دې هڅه کي دي، چي د خپلو سیالانو، چین او روسیې په وړاندې په دغې ستره لوبه کي برې ترلاسه کړي. ځکه دلته هم سیالي د تیلو، ګازو، نورو طبیعي توکو او په تیره د جیوستراتیژۍ پر سر دی، چي په افغانستان کي روانه جګړه د دغې سیالۍ لومړی

پراو دی. ځکه افغانستان د خپل ستراتیژیک پریوت (موقعیت) او خپلو طبیعي زیرمو له پلوه دواړو خواوو ته ځانګړی ارزښت لري.

نور بیا

اخځایونه:

۱ ـ وګورئ: لومړی برخه

2- Kronberger, Hans: Blut für Öl. Der Kampf um die Ressourcen, Wien ,1998, S. 31

3- Yergin, Daniel: Der Preis. Die Jagd nach Öl, Gold und Macht, Frankfurt am Main, 1991, S. 26

4- Massarrat, Mohssen: Der 11. September und der Afghanistan-Konflikt im Kontext der US-Ölinteressen und Geostrategie, 2002, S. 2

۵ ـ وګورئ:

Fed Schmid: China, Krise als Chane? Aufstieg zur ökonomischen Weltmacht, isw ____ Report Nr. 83-84, 2010, München, S. 45

6- Ebenda, S. 45

7- Ebenda, S. 45

8- Ebenda, S. 45

۹ ـ وګورئ په:

http://de.wikipedia.org/wiki/Metalle_der_Seltenen_Erden

۱۰ ـ وګورئ هماغه اخځ

11- Fed Schmid: China, Krise als Chane? Aufstieg zur ökonomischen Weltmacht, isw ____ Report Nr. 83-84, 2010, München, S. 48

12- Ebenda, S. 48

13- Ebenda, S. 48

14- Ebenda, S. 48